مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۶/۱۱

# خدایزده د کومې زمانې خلک یوو!؟



زموږ وژنه خو یو عام رواج دی
مړه زموږ لا د پوښتنې څوک!؟
ښکاره خبره ده چې موږ یې وړ یوو
که چا ویل چې د وژنې څوک دي!؟

زموږ ګوزار ببرته پر مخ رالګي
موږ نه د ځان بل غټ دښمن نشته
که نړی چاڼ کړې د یوې مخې نه
داسې پنځه زره کلن نشته

چې دې تقدیر په تعویذو بدل کړي
د غوا پوټکي کې زېړی وباسي
پر تار د کوډو دې یو بل و تړي
او په شنو لښتو دې پېری وباسي

موږ په نړۍ کې بې اسرې خلک یوو
موږ پیدا شوي بې مودې خلک یوو
لس زره کاله مخکې هم په وخت و
خدایزده د کومې زمانې خلک یوو!؟

دغه چې موږ پر ځان پخپله راووست
دې ته نړۍ هېڅ حادثه نه وایي
باوره مخکې نه څوک مړ ملت ته
بیا بیا له سره فاتحه نه وایي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ